ډاکتر نبي مصداق ۲۰۱۶/۰۷/۲۵

# افغانستان او د نړۍ احتیاجي

افغانستان په دې وروستیو ۱۵۰ کالو کې ډول، ډول تنګسي زغملې چې اصلي هدف يې د پرديو لخوا تحميل شوي داسي شرايط دي چې بيا زموږ د حکومتونو لپاره په مجبوريت او احتياجي بدل شوي دي.
د بېلګې په توګه، امير عبدالرحمن خان وروسته له ۱۲ کاله تبعيد نه د تزار په روسيه کې وطن ته له يوه کوچني لښکر سره له شمال نه راغی. په دې وخت کې د ميوند جنګ شوی و او انګريزانو نه غوښتل چې په خپله د افغانستان، هر ورځينی واګې په لاس کې واخلي. نو له عبدالرحمن خان سره چې تکړه او با تدبيره شخصيت و، د نغدو پيسو او جنګي تجهيزاتو ژمنه وکړه او هم د همدې فشار له امله يې بيا وروسته ۱۸۹۳ کال د ډيورنډ کرښه وربانديې ومنله. دا کمکونه، په لږ تفاوت سره د ده د زوی امير حبيب الله خان د دوو لسيزو په وخت کې هم دوام درلود؛ خو د ده د لسمي امان الله خان د آزادۍ په اعلان سره، دا مرستې بندې شوې. د ظاهر شاه په اوږده ۴۰ کلنه دوره کې چې د افغانستان سياست بې طرفي و، له روسانو او امريکايانو چې دوه زبرځواکونه وو، د نورو هېوادونو په شمول، د افغانستان د آبادۍ لپاره مرستې تر لاسه کېدې او زموږ د بې طرفۍ سياست يې سبب شوی و چې د ټولو د اعتماد وړ واوسي؛ ځکه د چا په ښو او بدو کې د خيل نه و. له بده مرغه د تېرو څلورو لسيزو کودتاګانو او ډول، ډول حکومتي سېستمونو زموږ حکومتونه، د نورو په خوله کې واچول او ډېر ځلي د هغو(خلقيان او پرچميان د اوس، مجاهدين د ګاونډيو او لرې پرتو هېوادونو، طالبان د پاکستان او عربو هېوادونو) د لاس آله وګرځېدو. اوس بايد موږ د امريکا او ناټو شرايط د هغو د کمک لپاره ومنو کنه، ګواښ راته کوي چې خپلې مرستې به بندې کړي او يا به هم خپل عسکر وباسي چې د دواړه نتيجه به کلونه، نور هم زموږ په وطن د پرديو جنګونه او وينې تويول وي. د کرزي د ۱۳ کلن حکومت نه، يوه غوښتنه چې د هغه، د هرې مياشتې په سفر کې چې هر چېرې به روان و، دا وه چې د فساد مخه ونيسي. که څه هم هغه په نوم د مبارزې يې داسې او هسې اورګانونه جوړ کړل؛ خو څرنګه چې دا اورګانونه په خپله په فساد کې غرق وو، هيڅ ځای يې ونه نيوه. ډاکتر اشرف غني چې په ټاکنو کې ژمنه کړې وه چې د فساد جرړې به را باسي دا دی، د مبارزې يو عدلي او قضايي اورګان يې جوړ کړی چې هيله لري د دې مرکز له لارې، د فساد او اختلاس مخه ونيسي. دا عدلي او قضايي مرکز ستره محکمه، لويه څرنوالي او د کورنيو چارو له وزارت نه جوړه شوی دی.
ډاکتر غني ته معلومه ده چې محکمې، څارنوالان او د کورنيو چارو وزارت د فساد مرکزونه وو؛ نو ځکه يې په سلګونه قاضيان، مستوفيان او څارنوالان بر طر کړل او هم يې په کورنيو چارو وزارت کې شپږ نوي رييسان مقرر کړي چې دوی ټول به له دې نوي عدلي او قضايي مرکزنه، د رشوت او اختلاس سره مجادله کوي. تر اوسه هم پداسې لوړه سويه د فساد د مخنيوي لپاره کوم اورګان نه وو جوړ شوی. دا نوی عدلي او قضايي مرکز لومړی بايد د فساد په تعريف باندې سره موافقه وکړي، چې آيا فساد يوازې د نقدو پيسو اختلاص دی او که د ځمکو غصب، په واسطه کسان مقررول او له خپل مقام نه سؤاستفاده کول هم په فساد کې راځي؟ دوهم داسې ونشي چې د دې مرکز اصلي هدف هغه ټيټ رتبه مامورين وي چې د کمو معاشاتو له امله، زر، دوه زره رشوت اخلي چې د خپل فاميل نفقه پوره کړای شي. خو هغه لوړرتبه مامورين چې د لوږې له لاسه نه؛ بلکې د حرص په لمسون په لکونه او حتی ميليونونه ډالرو رشوتونه اخلي او هغه مافيايي کړی چې حتی حکومت کی هم نفوذ لري د قانون منګولو ته و سپاري.
زموږ د ګډ حکومت نه هم مياشتې پخوا غوښتنه شوې وه چې وارسا او بروکسل غونډوته به، وروسته د موثرو ګامونو له پورته کولو نه راځي، که د نورو مرستو غوښتونکی وي. د وارسا د ناټو غونډې لپاره چې د جولای په ۸ او ۹ مه د پولنډ په پلازمينه کې وشوه، غوښتل شوي وو، چې د ناټو حکومتونه، چې ولسونه يې له افغانستان سره د مرستو نه ستړي شوي دي، بايد پداسې قانع کوونکي تياري سره ورشي چې هغوی بيا وکولای شي، خپل خلک قانع کړي چې له افغانستان سره دا مرستې د نړۍ د سولې او امنيت له امله اړينې دي. د مثال په توګه ناټو غوښتل چې زموږ د حکومت له پلان نه د فساد سره د مبارزې په هکله مطمين شي؛ د بشر د حقوقو په مراعت کولو کې قناعت ورکړل شي؛ حکومت بايد د ښې حکومتولۍ په باب د هغو اطمنان ترلاسه کړي. آيا د قانون حاکميت کې دوی برلاسي شوي او که نه او هم د ټاکنو په اصلاحاتو کې يې څه ګامونه اخيستي دي چې د تېرو ۱۵ کالو د درو ټاکنو، تقلب، تختي او تخلف بيا تکرار نه شي. د ګډ حکومت مشرانو په هغو دوو ورځو کې چې په ګډه سر مشريزه غونډه او انفرادي ډول


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د ناټو له مشرانو سره ولیدل، هغوی یې قانع کړل چې په جدي ډول یې د دې شرطونو پوره کولو لپاره لاس پورې کړي او د خلکو هم غږې ورسره ده. برسېره پر دې، افغانستان غواړي چې داسې یو اردو ولري چې د هېواد دوستي او د خلکو د دوستۍ په روحیه وروزل شي؛ خو هغوی عصري او موثرو وسلو ته اړتیا لري. ځکه چې د نړۍ لپاره هم مهمه ده چې زموږ د اردو په تجهیز او زده کړه کې را سره یو لاس شي؛ ځکه افغانان د تروریزم په لومړۍ کرښه کې په مجادله کې دي او که د افغانستان له پولونه، ترهګر نورو هېوادونو ته ولاړل، بیا به ټولې نړۍ ته، یو لوی سر خوږی جوړ کړي.

خو زموږ مشران باید له ناټو هم غوښتنه وکړي چې د فساد او سولې په برخه کې هغوی باید له ګډ حکومت سره مرسته وکړي؛ ځکه چې هغوی هغه تروریستان چې له پاکستان نه افغانستان ته راځي او یا دا چې ایرانیان دلته لړګۍ متحریکوي چې ناارامي راولي، موثره واقع کېدای شي؛ نو د ناټو هېوادونه په دې برخه کې له افغانستان سره همکاري وکړي، زموږ پر دوو شریرو ګاونډیو باندې، فشار راولي؛ څو د افغانستان په داخلي چارو کې د لاس وهنې نه ډډه وکړي. د افغانستان په سوله او امنیت کې زموږ د ګاونډیانو هم خیر دی، کله چې زموږ د اورګاډي پټلۍ له چین او مرکزي اسیا سره ونښلول شي، ایران به وکولای شي، چین ته خپل مالونه صادر کړي او د پاکستان لپاره به؛ بر سېره د افغانستان په مارکېټ د مرکزي آسیا مارکېټونو ته هم لاره پرانیستلې وي. همدا اوس پاکستان ته د قزاقستان او تاجکستان د ۱۰۰۰ میګا واټه برېښنا او ټاپي ۳۰ کلن د غازو قراردادونه د افغانستان له لارې لاسلیک شوي دي. نو د سیمې د هېوادونو اقتصادي ګټې هم د افغانستان له سولې او امنیت سره تړلې دي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ